

# انانسي او عقل

# Anansi and Wisdom

- Ghanaian folktale
- Wiehan de Jager
- Zahidullah Abid
- 3
- پښتو ps / English en



په پخوا زمانو کې خلک په هېڅ هم نه پوهېدل. د نباتاتو د کښت کولو لارې چارې نه ورتلې، د ټوکراوبدلو هنر یې هم زده نه و، حتی په دې هم نه پوهېدل چې له اوسپنې څخه ډول وسایل جوړ کړي. نیام خدای چې په آسمانونو کې و او د نړۍ په اړه یې ډېره پوهه لرله، خو هغه خپل عقل او پوهه په یو خټین لوښي کې خوندي کړې وه.

• • •

Long long ago people didn't know anything. They didn't know how to plant crops, or how to weave cloth, or how to make iron tools. The god Nyame up in the sky had all the wisdom of the world. He kept it safe in a clay pot.



يوه ورځ، نيام پرېکړه وکړه او خپل ختېن لوښی يې انانسي ته ورکړ. هر ځلې چې انانسي ختېن لوښي ته کتل ډېر نوي شيان يې ترې زده کول. دا چاره ورته ډېره په زړه پورې وه!

• • •

One day, Nyame decided that he would give the pot of wisdom to Anansi. Every time Anansi looked in the clay pot, he learned something new. It was so exciting!



خو هغه حریص و او له ځان سره یې دا وپتیله، چې همدا ختېین لوښی د لوړې ونې په سر کې پټ خوندي کړي چې دا ټول عقل د ده شي. هغه اوږد پړی راواخېسته او ختېین لوښی یې د خېلې خېټې پورې وتړه. او ونې ته یې په ختلو پیل وکړ. خو ختل ورته ستونزمن و، ځکه چې د پورته کېدو پر مهال یې لوښی د زنګنو سره لګېده.

• • •

Greedy Anansi thought, “I’ll keep the pot safe at the top of a tall tree. Then I can have it all to myself!” He spun a long thread, wound it round the clay pot, and tied it to his stomach. He began to climb the tree. But it was hard climbing the tree with the pot bumping him in the knees all the time.



په دې وخت کې د انانسي کشر زوی چې د ونې لاندې ولاړ ؤ اوخپل پلار ته يې کتل، ورته يې وويل: "که دا لوښی په خپل شا پورې وتړې ايا کار به دې آسانه نه شي؟" نو بيا انانسي هم د عقل څخه ډک ختين لوښی په شا پورې وتړلو او بيخي ورته آسانه شوه.

• • •

All the time Anansi's young son had been standing at the bottom of the tree watching. He said, "Wouldn't it be easier to climb if you tied the pot to your back instead?" Anansi tried tying the clay pot full of wisdom to his back, and it really was a lot easier.



په ډېره آسانۍ سره هغه د ونې سر ته وخوت، بیا نو له ځان سره
یې فکر وکړ: "زه باید تر ټولو عقل مند واوسم خو دلته زما زوی تر
ما ډېر هوښیار و!" انانسي په دې خبره دومره غوسه شو چې د
عقل څخه ډک ختېین لوښی یې له ونې څخه راګوزار کړ.

• • •

In no time he reached the top of the tree. But then he stopped and thought, “I’m supposed to be the one with all the wisdom, and here my son was cleverer than me!” Anansi was so angry about this that he threw the clay pot down out of the tree.



لوښی پر ځمکې ټوټه ټوټه شو. او عقل هر چا ته وړیا ورسېده. نو همدا و چې خلکو کرنه، د ټوکرو اوبدنه، د اوسپنې څخه ګټه اخیستنه او نور ټول هغه څه زده کړل چې اوس خلک یې ترسره کولی شي.

. . .

It smashed into pieces on the ground. The wisdom was free for everyone to share. And that is how people learned to farm, to weave cloth, to make iron tools, and all the other things that people know how to do.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## انانسي او عقل

## Anansi and Wisdom


Ghanaian folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid (ps)


CC BY